محمد ایاز نوري آزاد ۲۰۱۸/۰۳/۰۵

# د طالبانو د تحریک د مشر تابه هئیت ته

درنو ورونو، السلام علیکم!

زه لکه یو مستقل افغان، خدای پرسته، ستاسو هېواد وال، ستاسو په ارمان او درد کښي شریک دغه عرائض ستاسو محترم مشرتابه ته وړاندې کوم. ستاسو تحریک هغه وخت ګران او تېي، تېي افغانستان ته راځرګند شو، چي د نجیب کمونیستي دولت ړنګ او د افغان مجاهدینو حاکمیت د مرحوم برهان الدین رباني په مشری د کابل تاریخي ښار پخپل منځي جګړو کښي خاص او خاص د حکومتي قدرت په خاطر لوټي، لوټي کړی وه، مظلوم کابلیان د ۶۵۰۰۰ په شمېر وژل او زخمیان او باقي نورو د هجرت مخه ونیوله. ستاسو ظهور او بیا مو په اکتوبر د ۱۹۹۶ز کال د پروفیسور رباني د بې واکه تحمیلي حکومت ته سقوط ورکول او د شر او فساد څخه د بې ګناه ولس ژغورل، ستاسو په مهمو ارزښتناکه کارنامو کښي افغان تاریخ ثبت کړي دي. دا، چي ستاسو په حاکمیت کښي د هر افغان فزیکي امنیت خوندي وه، هم د افغان ولس غوڅ اکثریت ورته معترف دئ.دا، چي له بلي خواء ستاسو ښېړ کلن دولتي حاکمیت ځوان وه او د افغانستان په یوه برخه کښي جګړه ایز حالت د راپرزول شوي د جمعیت د تنظیم سره موجود وه، خپل منفي اغېزې یې پر تاسو او ټول هېواد لرلې.
زموږ د شریکي نړی د هغه وخت حالات داسی وه، چي ستاسو حکومت سره صادقانه لاس نیوی خصوصاً په اقتصادي بخش کښي نه کېدلو او بیا خبره تر دې ورسېده، چي ستاسو حکومت تر پایه نړیوال رسمیت پیدا نکړ او په ملګرو ملتونو کښي نړیوالو زبرځواکونو هم هغه د رباني ورک شوی حکومت ته رسمیت ورکړی وه. ستاسو په حکومت کښي لکه هر سیاسي حرکت د افغان ملت دښمن هم موجود وه، همداء شان ستاسو په تحریک کښي ډېر صادق وطن دوسته مسلمان مشران هم موجود ول. ستاسو د حکومت هغه غلطو اجراعات د هم دغه پټ په تاسو کښي ننوتلي دشمن اجراعات ول. دا هم واضحه خبره ده، چي تاسو ۶ کاله پر افغانستان حکومت وچلولو، او بیا په سپتمبر د ۲۰۰۱ز کال د نړی پر یو په هر لحاظ زور مند هېواد متحده ایالاتو د یو شمیر کسانو له خوا،چي افغان تبعه په کښي نه ول، وژوونکي حمله وشوله، چي زیات انساني تلفات ئې رامنځ ته کړل او هغه مغرور هېواد او حکومت ئې سخت په غضب راوستل. نتیجه د دغي حملي دا شوله، چي امریکائي حکومت د ۲۰۰۱ز کال د اکتوبر په اومه نېټه زموږ په افغانستان وسله وال یرغل پیل او (د افغانستان اسلامي امارت) په نوم حکومت ئې له منځه یووړ او نوي اداره د شاغلي حامد کرزي تر مشری لاندې رامنځ ته شوله. دلته دا خبره هم کیږي، چي د طالبانو د خلع شوي حکومت مشرتابه کوم وخت، چي شاغلی ګل آغا شیرزی د کندهار والي وه، ورته پیغام کړی وه، چي موږ ته مصونیت راکړی، نور موږ تاسو سره کوم برخورد نه لرو...! نوموړي والي کابل ته دا پیغام ولسمشر حامد کرزي ته رسولای وه، هغه ورته ویلي وه، نه اوس دې د طالبانو دغه خواست معطل شي. بیا خصوصاً د ۲۰۰۵ز کال نه راپیل د طالبانو وسله واله جګړه د موجود حکومت سره پیل او تر نن پوري په شدت سره روانه ده.
زما په نزد یو افغان طالب او یو د ملي اردو عسکر دغه دواړه د افغان ملت بچیان دي، دوی باید په یوه سوله ایز چاپیریال کښي نظر پخپله وړتیا د هېواد د آبادي لپاره ونده واخلي، نه دا، چي په وسله یو بل ووژني.
اما د اوس زموږ د هېواد ګران تاریخي افغانستان وضعیت داسی راغلی دئ، چي ستاسو د طالبانو د تحریک وسله وال موجودیت هم یو واقعیت دئ، د افغان موجوده حکومت د محمد اشرف غني تر مشرتوب لاندې هم یو واقعیت دئ، د ناټو د نظامي سازمان موجودیت هم زموږ هېواد کښي یو واقعیت دئ، یعنی په ښه یا بد حال ئې دغه دری قوې هلته موجودې دي. اوس په داسی یو حساس او مغلق حالت کښي یو تدبیر او حکمت ته هم سخت ضرورت لیدل کیږي. لومړی مهم خنډ دلته د رواني جګړي درول دي. موږ باید ټل د افغانستان ملت او افغان مظلوم ولس له سترګو ونه غورزوو. حکومتونه ځي او راځي، لاکن هغه څوک، چي ثابت دي، او د افغانستان اصلي خاوندان دي، هغه د افغانستان ولس دئ، افغان ولس په ټول کښي سوله غواړي.
درنو طالب مشرانو! هغه څه، چي یو افغان وګړي او یو افغان سیاسي تشکل ته باید لومړیتوب ولري، هغه د افغانستان مظلوم مبارز او غیرتي ولس او خلک دي، تاسو فکر وکړئ، چي همداء اوس اقلاً دغه رواني تشویش،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

چي پر خلکو ورپروت دئ، چي هره ورځ يو بل ته وائي، چي ګوره دلته زموږ هيواد کښي امنيت نشته، وسله واله جګړه روانه ده، او امکان شته، چي دغه نن زه ووژل شم...؟!. دا ځومره غټ ځور ده. راځئ خپلو ګاونډ مکونه ته وګوروو هلته هم دوی خپلمنځي مشکلات او شخړي لري لاکن دوی او ساست وال ئي ملک جنګ ته نه ورکوي، دغه پرون په پاکستان کښي يو قدرتمند صدراعظم ميا نواز شريف له دندی وشړل شوو لاکن ملک کښي وسله وال جنګ پيل نشو. اوس افغان حکومت دا، چي پخپل وړانديز کښي تاسو ته د بی قيده او شرطه خبرو او دا، چي هر محل کښي، چي د طالبانو مشرتابه ته قبوله وي، افغان حکومت ورسره خبرو اترو ته رضايت لري، نو زما رايه دغه ده، چي د افغان ولس ته په احترام راځی دا وړانديز ومنی، ستاسو په خوښه هر ځای مو، چي خوښ وي، خبرو ته حاضر شی، تاسو هم د ويلو لپاره يو څه لری او افغان حکومت هم بايد تاسو ته جواب ولري او يو ځای لکه دوه افغان اړخونه بايد يوې فيصلي ته سره ورسيږی. نن د ناټو د نظامي سازمان په چوکاټ کښي د بهرني عسکر موجوديت يوه مهم ملي موضوع ده. دوی اوس دلته پخپل ټول قوت راغلي او حاضر دي او معلومه ده، چي دوی هم د خپل ولس او هيواد لپاره خپل اهداف او خپلي ګټي په نظر کښي لري، ( هغه دري متل دئ، پشک ها خاص به رضای خدا موشها را نمی خورند... يعنی دا جنابه پشکه نس هم مړوي)، نو موږ افغانانو ته هم ښائي، چي د خپل ولس رايه او منافع کلکي په نظر کښي ولرو. کله، چي د لوی خدای په نصرت او رحمت يو وار له خير سره اوسنی ملي مصيبت يعني اوسنی روانه جګړه هيواد کښي ودريده او مطمئنه سوله ټينګه شوله، ټول افغان سياسي مشران به سره جرګه شي او خاص دغه موضوع به د افغانستان د خلکو په رايه د مصلحت پر ميز باندي واچوي، چي دغه د ناټو د موجوده عسکرو سره څه وکړو؟ د هغوی په شتون کښي زموږ ګټه ده او که په خارج کولو ئي؟ د نورو کورنيو پخوانيو شخړو د حل لپاره، بيا هر افغان، هر سياسي تحريک حق لري، په شرعی محکمه کښي خپل عرض و داد يو منصف او اختيار والا قاضي ته وړاندي کړي. خو عدالت خو په جګړه ايز حالت کښي نشي تامين کيدلای. زما په آند په ژوند کښي حتی له کورني ژوند څخه پيل بيا تر لويو لويو ملي مسايلو لپاره «ملي مصلحت» موجود وه او ده. په همدې ارتباط به زه دلته زموږ د تاريخي افغانستان د يوه ملي او شرافتمند زعيم اعليحضرت غازي امير امان الله خان (رح) د وياړمني باداشاهی د ايام يوه پيښه را واخلم. کوم وخت، چي افغان نامتو ملي مبارز عجب خان (اپريدئ) د انګريزانو سره پس له لويو مجاهدو يوې جوړي ته ورسيد او يرغمله انګريزه پيغله ايلس (Elsse) ئي بيرته غليم ته صفا سلامته وروسپارله، په دغه موقع د غازي امان الله په امر اخستل شوې يو ډيره عسکرې وسله د برتانوي هندوستان د کراچي بندر ته رارسيدلي وه. تجربه لرروونکي انګليس له موقع استفاده وکړه او افغان زعيم امان الله خان ته يې پيغام وکړو: « ستاسو عسکري وسله موږ د کراچي بندر کښي قرانطين کړي ده، شرط دغه ده، چي افغان حکومت به زموږ يو خطرناک دشمن عجب خان له برتانوي هند څخه ورغواړي او دا ياغي کس به د افغانستان شمالي برخه کښي اوسيږي،،» د دغه خبر په تر لاسه کولو مشر غازي په شاهي ارګ کښي خپل د شوراء مجلس جوړ کړ او ورته ئي وويل، زه خو د مستقل افغانستان يو غازي پاچا يم او دغه د قوي زور غړوونکي انګليس سره څه وکړم، ستاسو تدبير او حکمت کوم دئ؟ ډول ډول، چا ډير احساساتي، چا لږ احساساتي، چا تدبير مخته کړ، چا حکمت مخته کړ... بلاخره افغان پاچا وويل، زه د ملي مصلحت له مخی
عجب خان دلته کابل ته راوغواړم. بيا عجب خان کابل ته مخامخ ارګ ته پاچا امان الله خان حضور ته ورغلو. افغان پاچا هغه په غيږ کښي کلک ونيو او ورته ئي وويل: «عجب خانه! زه نن ستا په باب د خپل مخالف انګريز دا غوښتنه منم. نن زه تا د ملي مصلحت او د هيواد د ملي ګټو د ساتلو لپاره د هيواد شمال ته ليږم. هغه وه، چي دغه باتور د پاچا په فرمان د سل جريبو زراعتي ځمکی په اخستلو د خپلي پتمني کورنی سره د بلخ ولايت مزار شريف ته کوچ شو.( سرچينه، د خوشال خان ختک فرهنګي ټولنه، د عجب خان اپريدي شخصيت او ژوند ليک)
په دې ترتيب افغان حکومت هغه قرانطين شوې وسله د انګريز له منګولو را خلاصه او هيواد ته راورسوله.
بناً د افغان موجوده حکومت سره ستاسو خبرې کول دا ستاسو ناکامي او کمزوري نه ده، تاسو يو طرف ياست. نن ډيره مهمه ده، چي هم افغان حکومت او تاسو د طالبانو وسله وال مقاومت هر خپل قدم د ګران او ټپي افغانستان د ولس د منافعو پر بنسټ ومخته کښيږدئ.

و من الله توفيق


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ